## موږ څنګه کولای شو مرسته وکړو

د وېرمونټ حقوقي مرستې او د وېرمونټ حقوقي مالي مرستې د وېرمونټ د ټیټ عاید لرونکو اوسېدونکو لپاره مدني (نه جزایي) حقوقي مرستې چمتو کوي. زموږ خدمات وړیا دي.

د وېرمونټ حقوقي خدمات د حقوقي مرستې د ټولو غوښتنلیکونو ارزونه کوي. که چېرې موږ وکولای شو د حقوقي ستونزو په برخه کې مرسته وکړو، موږ به تاسو خپلو وکیلانو او مدافع وکیلانو ته راجع کړو یا به مو د وېرمونټ د حقوقي مالي مرستو وکیلانو او مدافع وکیلانو ته راجع کړو. موږ همدارنګه کېدی شي تاسو نورو پروګرامونو ته راجع کړو.

که غواړئ پوه شئ چې آیا موږ کولای شو له تاسو سره مرسته وکړو کنه، له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ. موږ ښایي وکولای شو تاسو ته مشورې درکړو. موږ ښایي وکولای شو تاسو ته وواېو چې له کوم ځای څخه کولای شئ داسې معلومات ترلاسه کړئ چې له تاسو سره مرسته وکړي چې په محکمه کې د خپل ځان استازیتوب وکړئ.

موږ له ټولو هغو کسانو سره مرسته نشو کولای چې کمک ته اړتیا لري. موږ ښایي ونشو کولای له تاسو سره ستاسو د عاید په اساس مرسته وکړو. موږ په کافي اندازه وکیلان نه لرو چې وکولای شو له ټولو هغو کسانو سره مرسته وکړو چې د مرستې غوښتنه کوي.

### څنګه کولای شئ له موږ سره اړیکه ونیسئ

**1-800-889-2047 شمېرې ته زنګ ووهئ او پیغام پرېږدئ، یا زموږ [د حقوقي مرستو د غوښتنې له فورمې](#) څخه په آنلاین ډول استفاده وکړئ.**

که تاسو په انګلیسي خبرې نه کوئ، د ترجمان غوښتنه وکړئ. **موږ به تاسو ته په وړیا توګه ترجمان چمتو کړو.**

زموږ دفترونه له دوشنبې تر جمعې د سهار له 8:30 د مازدیګر تر 4:00 بجو پورې پرانېستي دي.

موږ د مرستې لپاره ډېرې غوښتنې ترلاسه کوو. **له موږ سره د مرستې د شریکولو لپاره تر وروستی دقیقې پورې انتظار مه کوئ!**

له یاده مه باسئ چې خپله تلفوني شمېره له موږ سره شریکه کړئ او موږ ته د هغه غوره وخت په هکله وواياست چې موږ بېرته تاسو ته زنګ ووهو. په مهربانۍ سره زموږ دوباره اړیکې ته په تمه اوسئ. دا به له یوې 802 تلفوني شمېرې څخه وي چې ښایي تاسو یې ونه پېژنئ!

### موږ څنګه کار کوو

موږ به له تاسو څخه ځینې پوښتنې وکړو ترڅو دا په ګوته شي چې آیا تاسو په شرایطو پوره یاست کنه ترڅو زموږ وکیلان له تاسو سره خبرې وکړي. دې ته "ورودي پروسه" ویل کېږي.

د بېلګې په توګه، موږ به له تاسو څخه د لاندې مواردو غوښتنه وکړو:

- شخصي معلومات لکه ستاسو پته، د تلفون شمېره، ستاسو عمر، دا چې واده مو کړی کنه، او د هغو کسانو شمېر چې له تاسو سره یو ځای ژوند کوي
- د هغې ستونزې یا مسئلې په اړه تشرېحات چې تاسو یې په هکله له موږ سره اړیکه نیولې ده
- ستاسو د عاید او شتمنیو اندازه ترڅو دا په ګوته شي چې آیا موږ کولای شو له تاسو سره مرسته وکړو کنه

ستاسو له خوا ټول چمتو کېدونکي معلومات خوندي ساتل کېږي. دغه معلومات به ستاسو له اجازې پرته له هېچا سره شریک نشي.

### زموږ کارمندان به پرېکړه وکړي چې څنګه کولای شي په غوره توګه له تاسو سره مرسته وکړي

ستاسو وضعیت ته په پام سره او که چېرې تاسو د مرستې په شرایطو پوره وئ، تاسو کېدی شي لاندې مرستې ترلاسه کړئ:

- د تلفون له لارې حقوقي مشورې
- د پست یا برېښنالیلک له لارې د معلوماتو ترلاسه کول
- محدوده حقوقي څېړنه
- د وکیل یا مدافع وکیل لپاره راجع کول چې مرسته درسره وکړي
- بل نهاد ته راجع کول، یا
- شخصي وکیل ته راجع کول

**په مهربانۍ سره په یاد ولرئ:** موږ له تاسو سره د ترافیکي سرغړونو په برخه کې مرسته نشو کولای. موږ له تاسو سره د شخصي ټپي کېدو په مواردو کې، د کارمندانو د حق الزحمې، او د املاکو د قانون په برخه کې مرسته نشو کولای. که تاسو د کور مالک یاست، موږ نشو کولای له تاسو سره د کرایې د ستونزو په برخه کې مرسته وکړو. موږ نشو کولای په جرمي مواردو کې له تاسو څخه دفاع وکړو یا که چېرې تاسو د ناوړه ګټې اخیستنې په قضیه کې تورن یاست. (اما که چېرې تاسو د جرم او ناوړه ګټې اخیستنې قرباني یاست، موږ کولای شو له تاسو سره حقوقي مرستې وکړو.)

### مدني حقوقي خدمات څه ته وايي؟

د ورمونټ حقوقي مالي مرستې، د ورمونټ حقوقي خدمات، او د مدني حقوقي مرستو نور سازمانونه ژمنه کوي چې په مدني حقوقي مسایلو کې به له خلکو سره مرستې کوي او د هغوی استازیتوب به کوي. دا هغه حقوقي دعوې او نور قانوني مراحل دي چې جرم **نه وي** پکې شامل.

د بېلګې په توګه، په مدني حقوقي قضیو کې اکثره د کور د مالک او کرایه نشین ترمنځ منازعه، دېوالیه توب، د کرېډېټ کارت اړوند ستونزې، تعبعیض، Reach Up او د ټولنیز امنیت د امتیازاتو قضیې، او نورې ورسته ستونزې شاملېږي.

عمومي مدافعین او نور سازمانونه له هغو خلکو سره مرسته کوي او د هغوی استازیتوب کوي چې په جرمي قضیو کې دخیل وي، یعنې کله چې حکومت یو څوک په جرمي کړنو باندې تورنوي.

### آیا تاسو د جرم قرباني یاست؟

که تاسو د جرم یا ناوړه ګټې اخیستې د قرباني کېدو له امله حقوقي مرستو ته اړتیا لرئ، زموږ د جرم د قربانیانو لپاره د حقوقي مرستو پاڼې ته مراجعه وکړئ ترڅو وګورئ چې موږ څنګه له تاسو سره مرسته کوو.